آریانا افغانستان آنلاین
ملی، سیاسی او ادبی ویب پاڼه
http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوا ل

۲۰۲۱/۱۲/۰۵

# د روغې هیله

زړه کی می سل رنګه ګیلې دی خو کولی نه شم
وایم چی هرڅه به زغمـمه، خو زغملی نه شم
ځکه می خولې ته څه خبری ګډې وډې راشـی
بیـا پری خــپه یــمه خــو تـللې ستـنولې نه شم
زما په زړه خـو ته پوهیـږی چی کیـنه نه لـری
زه ستـا په خیر کرکه کینه زړه کی ساتلی نه شم
پرون تیرشـویدی په تېر کی ژونـدون کله کیږی
زه نن کی ژونـد کـوم پرون ته سـتـنیدلی نه شم
تا زه بـخښـلی وم پرون او ما وي ته بـخښـلـی
زه سـتا په خـیر خپلو عدو نه تیریـدلی نه شم
که په ما سل ظلمونه سرپه سرشی، هم دی وشئ
خـو زه یـو ځـل هم په بل چا ظالـم کیدلی نه شم
ما او تا دواړو رب ته ایښـی د تسلیم سـجده ده
که ته مـنکر نه یی ، زه هـم مـنـکریـدلی نه شم
راځه چی روِغــه سـره وکړو کلـیوال شو سـره
ځو به په ګــډه مـخ ته دواړه ځانتـه تلـلی نه شم



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com